## <u>مطبوعاتي اعلامیه</u>

# د باجوه-عمران رژیم د اویغور د مسلمانانو ناوړه وضعیت ته نه ګوري او پر پاکستان لا د چین اقتصادي واک ټینګوي

د ۲۰۱۹م کال د اپریل په ۲۸مه عمران خان په بیجېنګ کې د پاکستان او چین د پانګونې غونډې ته وویل: « موږ غواړو پاکستان ته د چین صنعتکاران راشي. پاکستان د دومره ځوان ځواک په درلودلو نېکمرغه دی او راتلونکی یې ډېر روښانه دی.» په دې کې شک نشته چې پاکستان ډېره وړتیا لري، خو د عمران-باجوه دغه ناوړه نظام له استعمارګر چین سره -چې زموږ له سپېڅلي دین سره په ښکاره جګړه کوي- په اقتصادي تړونونو خپله دا وړتیا له منځه وړي.

**اې د پاکستان مسلمانانو!**

رښتیا هم دا دولت له چا سره تړون کوي؟ چین د اویغور سلګونه زره مسلمانان په کمپونو کې بندیان کړي، هغوی ترې او شکنجه کوي یې. په خولو کې یې تر هغه وخته سیمټ ورمنډي، څو دمه یې ووځي؛ پاک‌لمنې مسلمانې ښځې د بچو زیږولو ته نه پرېږدي، مسلمان سړي له مردانګۍ نه غورځوي، د مسلمانانو په کورونو کې یې چینایي جاسوسان ګومارلي. په دې سره نه د اسلام د محرمیت حقونو ته پام کوي او نه د جنسیت تفکیک ته. سره له دې بیا هم د باجوه-عمران نظام د اسلام له یوه ښکاره دښمن سره تړون کوي؛ الله سبحانه و تعالی په دې اړه فرمایي:

﴿إِنَّمَا يَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنْ الَّذِينَ قَاتَلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَأَخْرَجُوكُمْ مِنْ دِيَارِكُمْ وَظَاهَرُوا عَلَى إِخْرَاجِكُمْ أَنْ تَوَلَّوْهُمْ وَمَنْ يَتَوَلَّهُمْ فَأُوْلَئِكَ هُمْ الظَّالِمُونَ﴾

[الممتحنه :۹]

*__ژباړه:__ له شک پرته چې الله سبحانه وتعالی تاسو د هغو خلکو له دوستۍ څخه منع کوي، چې له تاسو سره د دین په لاره کې جنګېدلي دي. تاسو یې له خپلو کورونو ایستلي یاست او ستاسو په ایستلو کې یې یو د بل ملاتړ کړی دی. نو له دوی سره چې کوم کسان دوستي کوي، هغوی ظالمان دي.*

له دغه نظام سره ولې د ایغور د مسلمانانو غم نشته؟ CPEC د چین یوه یواړخیزه معامله ده، چې چین پکې د خپل صنعت لپاره د پاکستان سرچینې لوټوي. پاکستان د چین پانګې، وارداتو او انساني ځواک ته اړ کوي، څو په دې سره د پاکستان سیمه‌ییز صنایع او زراعت له پښو وغورځوي. همداراز د چینایي پانګوالو په خوښه تړونونو

او د سودي پورونو سېل ته د پاکستان په ورتېل وهلو سره د چینایي کارخانو خاوندان او چینایي بانکونه مړوي. پر دې سربېره دغه گناهکار نظام له چین سره په دغو تړونونو موږ ته د شاتو او شیدو د سیندونو ژمنې راکوي! الله سبحانه و تعالی فرمايي:

﴿ مَا يَوَدُّ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ وَلاَ الْمُشْرِكِينَ أَنْ يُنَزَّلَ عَلَيْكُمْ مِنْ خَيْرٍ مِنْ رَبِّكُمْ وَاللَّهُ يَخْتَصُّ بِرَحْمَتِهِ مَنْ يَشَاءُ وَاللَّهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ﴾

[البقره :۱۰۵]

*__ژباړه:__ هغو خلکو چې د حق له منلو څخه انکار کړی، هغه که اهل کتاب وي یا مشرک؛ هېڅکله نه غواړي چې ستاسو د رب لخوا دې له تاسو سره مرسته وشي. خو د الله سبحانه وتعالی چې هر چاته غوښته شي، د خپل رحمت لپاره يې غوره کوي او همغه د لوی فضل خاوند دی.*

له شک پرته چې موږ به یوازې د نبوت پر تګلاره د خلافت په بیا تاسیس سره له دایمي امنیت او سوکالۍ برخمن شو، ځکه د الهي احکامو په پلي کېدو سره به پر موږ د الله سبحانه وتعالی ډېر رحمت ووربږي.

**حزب التحریر-ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**د صدور گڼه: ۵۲/۱۴۴۰**

**۱۴۴۰هـ.ق کال، د شعبان ۲۳مه**

**۲۰۱۹م کال، د اپریل ۲۹مه**